یهوداه

پیژندګلو

د یهوداه خط د یعقوب ورور لیکلے وو. او په دې کښې هغه خلقو ته خبردارے ورکړے شوے دے چا ته چې د جماعت د داخلیدو اجازت مِلاو شوے دے. او د هغې نه وروستو یې د خُدائ پاک د فضل او حضرت عیسیٰ مسیح نه اِنکار کړے دے یعنې ایکې یو مالِک، مالِک عیسیٰ مسیح نه. یهوداه د مقدس کِتاب نه د هغه خلقو مثالونه ورکړی دی څوک چې د سمې لارې نه بې‌لارې شوی دی او خلق یې هم بې‌لارې کړی دی. هغۀ څۀ ډېر ځله د داسې خلقو د ملامتیا او نافرمانۍ په حقله لیکلی دی. او چا چې خپل وجود پلیت کړے دے او د خُدائ پاک اختیار نه یې اِنکار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے دے، هغه په دې خط کښې ایمانداارانو ته د پاک ژوند تبرولو دپاره منت او تاکید کوی او ورته د داسې خلقو په باره کښې فرمائی چې په ځینو مسائیلو کښې ورسره بحث مباحثه کوئ، او په ځینې مسائیلو کښې یې د اور نه راوباسئ. یهوداه خپل خط د ټولو نه په یو ښۀ حمد سره ختموی. د حفظ کولو دپاره ۱:۲۴-۲۵ آیت ”اوس هغه چې تاسو د غورزېدو نه بچ کولے شی او د خپل حضور په جلال کښې مو بغېر د ملامتیا نه په خوشحالی راوستے شی، د ایکې یو خُدائ پاک چې د مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله زمونږ خلاصونکے دے، د هغۀ دې جلال، شان و شوکت، قُدرت او اختیار د ازل نه، اوس او تل تر تله وی. آمین.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دُعا او سلام

۱ دا خط د یهوداه د طرف نه دے چې د عیسیٰ مسیح غلام او د یعقوب ورور دے. زۀ هغوئ ته دا لیکم څوک چې رابللے شوی دی، چا سره چې خُدائ پلار مینه کوی او عیسیٰ مسیح دپاره یې محفوظ ساتی. ۲ رحم، سلامتیا او مینه دې په تاسو د حد نه زیاته وی.

د دروغژنو اُستاذانو په خلاف عدالت

۳ زما گرانو دوستانو، اګر چې زما تاسو ته د هغه خلاصون په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حقله د لیکلو ډېر زیات شوق وو په کوم کښې چې مونږ ټول شریک
یُو، خو زهٔ اوس تاسو ته د بل څیز په حقله لیکل غواړم او تاسو ته
مِنت زاری کوم چې د هغه ایمان دفاع وکړئ کوم ایمان چې
مقدسینو ته په یو ځل سپارلے شوے وو. ۴ ځکه چې څهٔ خلق
ستاسو په مینځ کښې راګډه شوی دی په چا چې د ډېر پخوا نه د
مجرمانو مهر لګولے شوے دے، بې‌دینه خلق څوک چې زمونږ د
خُدائ پاک فضل په عیاشۍ بدلوی او زمونږ د یک یو مالِک، مالِک
عیسیٰ مسیح نه اِنکار کوی. ۵ اګر کهٔ تاسو ټول په دې ښهٔ خبر
یئ خو زهٔ غواړم چې تاسو ته دریاد کړم چې زمونږ مالِک څنګه بنی
اِسرائیل د مِصر نه رابهر او بچ کړل، خو بیا وروستو یې هغه خلق تباه
کړل چا چې ایمان نهٔ وو راوړے. ۶ او هغه فرښتو چې خپل مقام
یې ونهٔ ساتلو او خپل ځائ یې پرېښودلو، نو خُدائ پاک هغوئ په
ابدی زنځیرونو او په تورتم کښې د قیامت د لوئ ورځې پورې ساتلی
دی. ۷ دغه شان د سدوم او عموره او د ګېرچاپېره ښارونو مِثال
واخلئ چې د هغوئ خلق هم د غېر فطری فعل او په زناکارۍ کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرہوتل، او هغوئ ته د عبرت په توګه په ابدی اور کښې سزا ورکولے
کیږی. ۸ نو په هم دې طریقه دا خلق د خپلو رویاګانو په وجه
خپل جسمونه پلیتوی، د خُدائ پاک اختیار سپک ګڼی او جلالی
مخلوق ته بدرد وائی. ۹ بلکې یاد ساتئ چې د ټولو نه لوئې فرښتې
میکائیل هم دغسې ونهٔ کړل، ځکه چې څهٔ وخت چې هغه د
موسیٰ د لاش په باب د اِبلیس سره بحث کولو په هغه وخت یې
دومره همت ونهٔ کړو چې په اِبلیس اِلزام ولګوی، بلکې دا یې ووئیل
چې، ”مالِک خُدائ دې تا ملامته کړی.“ ۱۰ خو دا خلق هغه
څیزونو ته بدرد وائی کوم چې دوئ نهٔ پیژنی، او چې په کومو څیزونو
دوئ په طبعی توګه لکه د بې‌شعوره ځناورو پوهیږی، نو په هم دې
هغوئ خپل ځان تباه کوی. ۱۱ په هغوئ افسوس دے، ځکه چې
هغوئ د قائِن لار خپله کړه، او هغوئ د ګټې دپاره بلعام په شان
ګمراه شول، او هغوئ د قورح په شان مخالفت وکړو او د هغهٔ په
شان هلاک شول. ۱۲ کله چې دا ګنده خلق ستاسو په میلمستیا
کښې تاسو سره په خوراک څښاک شراکت کوی نو هغوئ په ډېر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې‌ادبۍ سره خوراک کوی لکه د هغه شپونکو په شان چې صرف خپله ګډه ډکوی. هغوئ د هغه بې‌بارانه وریځو په شان دی چې هوا په مخه کړې وی، او د منی د بې‌مېوې ونو په شان دی چې په دواړه اړخه مړې وی، یعنې د بېخه ویستلے شوې وی. ۱۳ هغوئ د سمندر د طوفانی چپو په شان دی، خپل شرمناک عملونه لکه د ګنده ځګونو په شان راوچتوی، او لکه د هغه سرګردانه ستورو په شان دی چې د تل دپاره تورو تیارو ته لېږلے شوی دی او رنا یې ختمه شوې ده. ۱۴ حنوک هم چې د آدم نه په اوومه پیړۍ کښې وو، د دوئ په باب کښې پېشګوئې وکړه او وئ فرمائیل چې، ”ګورئ، مالِک د خپلو زرګونو فرښتو سره راروان دے ۱۵ چې د ټولو عدالت وکړی او ټولو بې‌دینو له به د سزا حُکم ورکړی، ځکه چې هغوئ د خپلې بدعملی په وجه ډېر د بې‌دینۍ کارونه وکړل، او خُدائ پاک بې‌دینه ګناهګارانو له به هم د سزا ورکولو حُکم وکړی ځکه چې هغوئ د هغۀ خلاف ډېر بد وئیلی دی.“ ۱۶ دا غوږېدونکی او شکایت کوونکی خلق دی، هغوئ په خپلو خواهشاتو پسې روان دی، هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل ځان په حقله غټې غټې خبرې کوی او د خپل مقصد دپاره خلقو ته نرمې ګرمې خبرې کوی.

وفادار پاتې کېدل

۱۷ خو زما ګرانو دوستانو، تاسو زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح د رسولانو پېشګویی یادې ساتئ. ۱۸ هغوئ تاسو ته دا وئیلی وُو چې په آخره زمانه کښې به داسې خلق وی چې تاسو پورې به ټوقې کوی او د خپلې بې‌دینۍ په خواهشونو پسې به ګرځی. ۱۹ دا هغه خلق دی چې ستاسو په مینځ کښې بیلتون راولی، هغوئ نفسانی دی او په کښې د خُدائ پاک روحُ نشته. ۲۰ خو زما ګرانو دوستانو، تاسو د خپل مقدس ایمان په بنیاد یو بل قائم کړئ او د روحُ القُدس په طاقت دُعاګانې کوئ. ۲۱ خپل ځانونه د خُدائ پاک په مینه کښې قائم وساتئ، او د هغې ورځې اِنتظار کوئ چې زمونږ مالِک عیسیٰ مسیح به تاسو ته په خپل رحم د تل ژوندون درکړی. ۲۲ په هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رحم کوئ چې شک کوی. ۲۳ ځینې د اور لمبو نه راوچت کړئ او بچ يې کړئ، او په يرې سره په ځینې خلقو رحم کوئ، او د هغۀ د هغه ګناه نه نفرت کوئ په کوم چې هغه تور شوے دے.

د خُدائ پاک حمد

۲۴ اوس هغه چې تاسو د غورزېدو نه بچ کولے شی او د خپل حضور په جلال کښې مو بغېر د ملامتیا نه په خوشحالیِ راوستے شی، ۲۵ د ایکې یو خُدائ پاک چې د مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله زمونږ خلاصونکے دے، د هغۀ دې جلال، شان و شوکت، قُدرت او اختیار د ازل نه، اوس او تل تر تله وی. آمین.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹